نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۷/۰۶/۲۱

# ولسمشره زما اتل یې، زما ورک غازي امان الله خان یې!

ولسمشره درې شلي او لس کلن شې، د ولس د زړه خبره دې وکړه، موږ درسره ولاړ یو، موږ دې ملاتړي یو، موږ دې عسکر او ملګري یو، موږ دې امر منلو ته حاضر یو.

خو! ژمنه وکړه، چې قول او عمل به دې یو کوې، په خبره به دې دریږې، شاته کیږي به نه، ولس ته به دوکه نه ورکوې.

ډیر خوشاله شوم چې ستاسې له خولې اورم چې وایې د اعلیحضرت شاه امان الله خان غازي نیمګړی فصل به بشپړ کوم، موږ دې په پوره امانت دارۍ ملګري یو.

خو! د افغانستان او نړۍ تاریخ لیکي چې غازي امان الله خان له انګریز ښکېلاک څخه ازادي واخیستله، او بیا یې له هیواد د انګریز پوځ د ایستلو لپاره جهاد اعلان کړ، افغان ولس ورته د غازي لقب ورکړ. غازي امان الله خان واک ته له رسېدو سره سم د خپلواکۍ اعلان وکړ، د وطن خپلواکۍ غازي هرې ستونزې او ننګونې منلو ته چمتو کړی و.

د حکومت مشره! تاریخ لیکي چې د مخکینې ولسمشر حامد کرزي، د اوسني ولسمشر غني، د پخواني ولسمشر برهان الدین رباني، د پخواني ولسمشر صبغت الله مجددي، د شمال ټلوالې د ګردو مشرانو او قومندانانو او ځینو نورو افغان مشرانو په ملګرتیا او غوښتنه امریکایي پوځیان افغانستان ته راوغوښتل شول، او افغانستان یې د بهرنیو پوځیانو په واک کې ورکړ.

دلته یو لوی توپیر ولیدل شو، غازي امان الله خان د هیواد ازادي واخیستله او تاسې ښاغلو د هیواد ازادي خرڅه کړه.

د حکومت مشره! تاریخ لیکي چې د افغانستان ولس د امریکا او ناټو سره د نالنډوله امنیتي تړون مخالف وو، او که غازي امان الله خان ژوندی وای، هغه به یې هم مخالفت کاوو، مګر تاسې ښاغلي واک ته د رسیدو په دوهمه ورځ دغه ننګین له شرمه ډک تړون لاسلیک کړ، چې نن یې اضرار هر لوی او واړه افغان ته رسیږي. غازي واک ته له رسېدو سره اول کار د ازادۍ اعلان وکړ، او تاسو هغه تړون لاسلیک کړ چې ستاسې د تیم نژدې غړی، دمالیې وزیر اکلیل حکیمي هغه وخت ویلي و چې دا تړون زموږ په ګټه نه دی!

دلته یو لوی توپیر تاریخ لیکي چې غازي امان الله خان له یرغلګرو انګریزانو سره د هر ډول امنیتي تړون مخالف وو، مګر تاسې د هیواد نه پوځي او هوایي اډې (د کابل هوایي ډګر، د بګرام هوایي او پوځي اډه، د مزار شریف هوایي ډګر، د جلال اباد هوایي ډګر، د ګردیز پوځي اډه، د کندهار هوایي او پوځي اډه، د هلمند هوایي او پوځي اډه، د شینډنډ هوایي او پوځي اډه او د هرات هوایي ډګر)امریکا ته د افغانانو د وژلو په موخه په واک کې ورکړې، او تر څو له دې ځایه منځنۍ اسیا، چین او روسیه هم د امریکا له تهدید سره مخ وي.

تاریخ به دا هم ولیکي چې تاسې (ډاکټر غني) او مخکینې ولسمشر حامد کرزي د شاه امان الله خان غازي د ننګ مډالونه په ډیر ټیټ سره باندې د بهرنیو پوځیانو د قومندانانو په اوږو ورتومبل، هغوی چې زموږ په هیواد کې د افغان ولس په ضد جګړه کوي.

د لویدیز له عینکو، د لویدیز له غوښتنو سره سم، د میرمنو د حقونو په برخه کې ستاسې او ستاسې د میرمنې ځانګړې هڅې فوق العاده دي، چې تاریخ به داهم ولیکي.

تاریخ لیکي چې د مخکینې ولسمشر کرزي میرمن کله هم د افغان دود او کلتور مخالف حجاب کې حتی د میرمنو په ټولنه کې هم ونه لیدل شوه.

د حکومت مشره! دلته تاسې هم دا امتیاز لرئ، چې میرمن رولا غني په کابل کې د سرو او کله د میرمنو په لویو غونډو کې، او کله چې تاسې ته د ارګ چارې سپارل کیدی، په اوږدو لویو کابلي کالیو کې لیدل کیږي، هغه چې پخوا یې د لویدیځ جامه درلودله.

غازي امان الله خان چې پوه شو چې ولس ورڅخه فاصله ونیوله، هغه د خپل ولس په وړاندې جګړه ونه کړه، د لوی کندهار او غزني خلکو د هغه د ملاتړ لپاره وسلې را واخیستلې، مګر غازي امان الله خان ورته وویل چې د واک د ساتلو په خاطر خپل افغان ولس نه شم قرباني کولای.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

غازي امان الله حتی د حبیب الله خان کلکاني (بچه سقاو) په مقابل کې هم د لوی کندهار او غزني د خلکو له قربانیو ښخه ډډه وکړه، او د افغان وژلو دسیسې ته یې دوام ورنه کړ.
تاریخ به ولیکي چې تاسې د نیم حکومت (٪۵۰) واک د ساتلو لپاره په تیرو درېو کلونو کې دواړو لورو (حکومت او طالبانو) ته په لسګونو زرو افغان ځوانان او ماشومان د خپل واک ساتلو لپاره قرباني کړل.
موږ په خپلو پورته ژمنو درېږو، که تا د غازي امان الله خان له کارونو یو هم وکړ، لومړنی او یا وروستی، داچې امریکایي پوځیانو ته له هیواده د وتلو جرئت وکړئ او یا خو د خپل لړزیدلي واک لپاره د افغان بچیانو سرونه قرباني نه کړئ، د پردیو هیوادو د ګټو لپاره د افغان میرمني په نیمه شپه کې په ژړا نه کړئ.
د حکومت مشره! د نړۍ او هیواد ګردو تاریخونو لیکلي چې خدای بخښلی موسی شفیق د شوروي پلوو افغان کمونستانو لخوا له دې امله شهید کړلای شو، چې هغه د هیواد په ازادي مین لومړی وزیر وو. شفیق د خپل هېواد له دوديز تعلیمي نظامه نړۍ ته ووت، تمدن یې ولید، بېرته راغی همدې خوار ولس ته، د همدې ولس له ارزښتونو لپاره یې مبارزه وکړه او پای یې قرباني هم شو.
موسی شفیق چې په ۱۹۷۲ کې د ظاهر شاه له خوا د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، ایران سره د اوبو او پاکستان سره د پولې په ځېر لانجمنو موضوعاتو ته یې لاس واچاوه. شفیق زړور رهبر و، د سختو تصمیمونو جرئت یې درلود.
ولسمشره، پوهېږو، ته چې د امریکایانو یوه ړنده بمباري نه شي غندلی؛ نو د امنیتي تړون د الغا بحث به چېرته پورته کړای شي؛ خو شفیق داسې نه و، شفیق سختې پرېکړې کولې، شفیق چې ایران سره د اوبو ربړه حل کړه، هغو عناصرو په کابل کې شفیق ته د اوبو خرڅوونکي خطاب کاوه، چې نن ستا په غېږ کې ناست دي او ټول نظام یې په ولکه کې دی.
د حکومت مشره! فکر مه کوه چې د خلکو تاریخ هیر دی، تاریخ لوستل شوی او راتلونکی تاریخ لیکل کیږي.
۲۳م روژه مات ( ۲۸ غبرګولی ۱۳۹۶/ ۱۸ جون ۲۰۱۷) ته ارګ ته د مدني ټولنو استازي ورغوښتل شوي وو، د حکومت مشر ورته وویل چې : «د غازي امان الله خان او موسی شفیق ناتمام د هیواد د پرمختګ ځېرکی به بشپړوم.»
ډاکټر غني ونشو ویلای چې د غازي امان الله خان او موسی شفیق د هیواد په ازادی او خپلواکۍ مینو افغانانو په قدم په قدم ږدو او هیواد به له پردیو بهرنیو پوځیانو خلاصوو.
د حکومت مشره! سوله اړینه ده، د بهرنیو پوځیانو په شتون کې سوله ستونزمنه ښکاري، ښه به وي چې سولي ته د رسیدو په اساسي او بنسټیزو شرایطو فکر وکړئ. که ربښتوني سوله دې وکړه، زما اتل یې، زما ورک غازي امان الله خان یې.
حکومت مشره! کله چې داسې وخت راشي چې ستاسې وخت او ورځ نور په کابل کې نه تیریږي، او بیرته امریکا ته ځې، بیا به د سولې چانس ونه لرئ، هغه وخت به ارمان کول کومه ګټه هم ونلري، او داهم یاد ولرئ، چې طالبان د دې خاوري بچیان دي، او هغه به یوه ورځ خامخا د خپل ولس د غوښتنو سره سم ښارونو ته راځي.
د حکومت مشره! د کابل پوهنتون د دیوال په قرارداد کې هم د لکونو ډالرو د فساد له امله ویل کیږي هغه وخت کې ستاسې د فساد دوسیه لویې څارنوالي ته لیږل شوې وه، چې د امریکا سفارت د مداخلي له کبله هغه همهلته ورکه شوه، او بیا چې تاسې واک ته ورسیدلئ، هغه څارنوالان د یادي فساد دوسیې قرباني او له دندو وشړل شول.
حکومت مشره! تاسې وویل چې : «په تېرو لسو ورځو کې مې له ۳۰۰۰ هېوادوالو سره وکتل».
یعني په یوه ورځ کې مو له ۳۰۰ کسانو سره کتلي، که مو له هر کس سره جلا جلا لیدلي وي، او هر کس ته مو لس دقیقې وخت ورکړی وي، نو په یوه ورځ کې مو ۳۰۰۰ دقیقې خبرې له خلکو سره کړي چې هره ورځ پنځوس ساعته یواځې تاسې ولسي خلک لیدلي، داچې نور مو څو ساعته کار کړي، که هغه وخت هم ورزیات کړو، نوستاسې کاري ورځ تر ۵۰ ساعته اوړي، حال داچې د نړۍ په ټولو هیوادو کې کاري ورځې ۸، ۱۲، ۱۸ ساعته وي، او شپه او ورځ بیا ۲۴ ساعته کیږي.
او یا دا چې په ډله ییز ډول مو له خلکو سره لیدلي، بیا خو نو یواځې تاسې خپلې خبرې ورته کړي ، د هغوی نظریات به مو ډیر لږ او یا خو نه وي اوریدلي، که ډله ییزه لیدنه وي، بیا نو په یوه ورځ کې سړی لسګونو زرو کسانو ته هم وینا کولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د حکومت مشره! تاسي وويل چي: «زه دلته د ښځو، ځوانانو او بېوزلو په رايو راغلی يم او هيچا سره شخصي مناسبات نه لرم، د افغانستان دښمنان يو قوي دولت نه غواړي، د افغانستان قوي ټولنې لپاره قوي دولت په کار دی او ژمنه کوم چې د کابل ښار ټول بند سرکونه به خلاصوم، خو تاسې به راسره دريږئ.»
دابه درسره ومنو چې تاسي ته نږدې ۲ ميليونه خلکو رښې رايې درکړي، مګر تاسي ته د رايه درکوونکو ښځو، ځوانانواو بې وزلو په رايو ولې له ډاکټر عبدالله سره معامله وکړه، تاسي خپله قوي حکومت ونه غوښت او حکومت مو وويشي، په لوی لاس مو سهامي شرکت ورځخه جوړ او يو کمزوري دولت مو تشکيل کړ.
حکومت مشره! ودي ويل : «کله چې جمهور رئيس شوم تاسې داسې تصور کولای شوای که د تورخم لار بنده شي کابل کې دې خلک لوږې پيدا کړای شي؟ ما دوه کاله منځنۍ اسيا سره د اړيکو په جوړولو کار وکړ، کله چې د تورخم دروازه تر مياشت ډېره بنده وه، په مونږ يې يو فيصد اغېزه هم ونکړه. دا زمونږ د اقتصادي خپلواکۍ او ښېرازۍ ثبوت دی.»
مګر تاسي ته لکه چې د سوداګرۍ وزارت کارکوونکو نه دي ويلې چې د طالبانو د نظام پر مهال پاکستان په افغانستان اوږه بند کړل، طالبانو له ترکمنستان سره هوکړه ليک لاسليک کړ، هغه کال غنم او اوړه دومره زيات وو، چې تر بل هر کال ارزانه وو.
مګر تاريخ داهم ليکي، چې ستاسي په وخت کې پاکستان د تورخم دروازه رسمې پرانيستله، ستاسي په وخت کې پاکستان د چمن دروازه رسمې کړه، ستاسي په وخت کې پاکستان د بولدک د کليو سر شمېرنه وکړه، ستاسي په وخت کې د ډيورنډ په کرغيږنه ليکه خندق وايستل شو، او دافغانستان لورته پرې اغزن تار هم ولګول شو.
ستاسي په وخت کې پاکستاني چورلکو او پاکستاني پوځيانو د افغان پوځيانو سره په ګډه د ننګرهار په ځينو سېمو کې جنګې عمليات وکړل، ستاسي په وخت پاکستان ته استخباراتي معلومات ورکول شول، او ستاسي په  وخت کې پاکستان ته افغان پوځيان د روزنې لپاره واستول شول.
حکومت مشره! د منځنۍ اسيا اړوند خبرې هغه وخت کوه چې د روسانو او امريکا اړيکې سمې شي، تر څو چې د روسانو او امريکا اړيکې کړکيچنې وي، نه ښکاري چې تاسي ته دي په منځنۍ اسيا کې ښه راغلاست وويل شي.
ولسمشر غني وويل : «دوه کاله مخکې د نظام د بقا سوال مطرح و. ټولو د سقوط نارې وهلې. ايا چا دا ويل چې ملي ځواکونه به هېواد وساتي؟ د ګردي ميزونو خبرې مو در په ياد کړئ. نړۍ له افغانستان څخه د تېښتې په حال کې وه. ايا چا دا اټکل کولی شو چې مونږ به  له وارسا او بروکسل کنفرانسونو ۱۵ مليارده ډالر راوړو؟ دښمن دا نشي زغملی.»
حکومت مشره! پوهيږي چې د امريکا درانه له شره ډک لاسونه درباندې پراته دي، که نه د ولسي جرګې هغه خبره درياد‌وم چې د روښنايي غورځنګ ستر لاريون ارګ ته نږدې وو، د ولسي جرګې وکيل وايې چې له ويرې مو ضعف کړی وو. او د تيښتې لاره مو لټوله، مګر د امريکا سفارت ډاډ درکاوو. اوس هم چې د امريکا سفارت، امريکايې پوځيان درسره نه وی، کيدای شي، ستاسي نظام ډيره بقاء ونه لري.
د کندز دوه ځله سقوط مو له ياده وتلی، د هلمند له موسی کلا څخه د افغان عسکرو د لواء شاته کېدل او وسايل يې طالبانو ته پاتې کېدل مو له ياده ووتل، د بدخشان ۲۰۰ تنه پوځيان چې طالبانو ته له خپلو وسلو او مهماتو سره تسليم شول، له ياده مو ووتل، د هملند، ارزګان او فراه د مرکزونه محاصره چې بيا امريکايې الوتکو ماته کړه، او له ياده مو وتلي چې په همدې اونۍ کې طالبانو د ارګ څخه نږدې ۲۵ کيلومټره ليرې ستا د پلرنې ټاټوبې لوګر څخه کابل ته لويه لاره کې ولاړ او په ساعتونو يې هلته تالاشي کوله.
د نړيوالو خپلواکو ادارو، د امريکايې مشهورو ورځپاڼو او سيګار راپورونه مو لکه چې له ياده ووتل، چې د هيواد ډيره خاوره د حکومت له واکه وتلي ده.
له وارسا او بروکسل غونډو  چې هر څومره ډير ډالر تاسي ترلاسه کوئ، هغه يوائې د افغان ولس د وږلو لپاره درته راځي، دا نو د ننګ نه ، بلکې د پېغور خبره ده، چې د خپل ولس د وږلو لپاره له امريکا او ناټو پيسې ترلاسه کوئ، او بيا فخر هم کوئ، کاش چې همدا پيسې مو د سولې په لاره کې لګولې وای.
تاسي وويل چې : ((ډېر ځوانان مې و ګومارل، ماته داسې اداره په ميراث پاتې وه چې د خدمت فرهنګ پکې نه و.))
د حکومت مشره! کوم ځوانان؟ هغه چې په بهرنيو هيوادونو کې يې زده کړې کړي، او له راتګ وروسته به خامخا د کوم هيواد سپارښتنه د دندې اخيستلو لپاره ولري، موږ ډيری داسې  د ماسټرۍ او دکتورا ځوانان لرو، چې د دندې د نه پيداکيدو او مايوسې له امله غير مسلکې کارونه کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

د حکومت مشره! تاسي د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان هغه ځوانان راته وښياست چي د لياقت پر بناء مو دندې ورکړي دي.
او ربښتيا هم تر ټولو ډير خدمت دي د ځوانانو په برخه کي دا وکړ چي نږدې دوه لکه ځوان افغان استعدادونه ستا دواک په وخت کي له هيواده وتښتېدل.
او يو ميليون افغانانو ته د کار پيداکولو پر ځای دي، تر يو ميليون زياتو افغانانو څخه دندې واخيستلې.
ولسمشر وويل چي: ((ملي يووالی مو تر بريد لاندې دی، ملي يووالی و ساتئ او خلک مه نااميده کوئ.))
د حکومت مشره! د ملي يووالي بنسټونه يو ځل د ډاکټر نجيب الله وخت کي ړنګ شول، چي قومي مليشې يې جوړې کړې، د شمال په استازيتوب يې د قومي مليشو مشر ستاسي لومړی مرستيال عبدالرشيد دوستم او په جنوب کي د قومي مليشو مشر يې ستاسي د هملند د جګړې اوپراتيفي مشر جبارخان وو.
دادې تاسي هم د ملي يووالي بنسټونه ونړول، حکومت مو په دوو برخو وويشی، نيمه حکومت مو شمال ټلوالي ته وباخښه، او نيم حکومت مو د نورو قومو په منځ کي وويشی، چي دې ډول د سياسي ويش او سياسي معاملې حکومت ته کله هم د ملي يووالي حکومت نه ويل کيږي.
ستاسي د متوازن  انکشاف دعوې اړوند يواځې د پکتيا د مچلغو بند درته يادوم، چي ولې مو د هغه بند پروژه لغوه کړه،  او داچي د پکتيکا يادونه مو وکړه، کومې پروژې هلته شوې او يا تر لاس لاندې دي؟
د چين سره د ښو اړيکو موږ منو، خو د لوګر د عينکو د مسو قرارداد چي کلونه پرې تير شوې، ولې چينايي انجنيرانو ته د کار کولو اجازه نه ورکول کيږي، ولې ورته امنيتي ستونزې جوړيږي، دا څه ډول ښه روابط دي، څه ډول اقتصادي پرمختګ دی، چي قرارداد شوی د هيواد په کچه لويه پروژه نه پيل کيږي او دنورو پروژو په اړه راته ويل کيږي.
او د چين هيواد د بهرنيو چارو د وزير وروستی څرګندوني دادي چي افغانستان ته د امريکايي زياتو پوځيانو ليږل په سيمه کي کړکيچ زيږوي، د سولې په مخ کي خنډ جوړيږي.
او حکومت مشره! هغه د هند څخه راتلونکی اورګاډي ولې معطل دی، څه پيښه وشوه، چي هغه يوځل راتګ وشو، او بيا افغان سوداګرو ونه ليدی؟
او حکومت مشره! هغه د چابهار بندر څنګه شوه، هلته د افغان سوداګرو مالونه څه شول؟
او حکومت مشره! هغه د سالنګ دويم تونل، د اقيني بندر او ټوټاپ پروژې څه شوې؟
او حکومت مشره! د مخابراتو ۱۰ سلنه محصول دچا جيبونو ته لويږي؟
او حکومت مشره! د ننګرهار، هرات، شيرخان بندر او هرات د ګمرکونو غلا شوې پيسې د کومو چارواکو ترمنځ ويشل کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ